# د وینا متن

**"د نابرابرۍ تګلاره" - افغانستان یو کال وروسته**

**د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیالې او د ملګرو ملتونو د ښځو د چارو د مشرې، سیما باهوس، د وینا متن**

**د اګست ۱۵، ۲۰۲۲ | سیما باهوس، د ملګرو ملتونو د ښځو د چارو مشره**

افغانستان کې واک ته د طالبانو له رسېدو یو کال وروسته، هره ورځ او په پرله پسې توګه، مونږ د ښځو او نجونو د حقوقونو وضعیت د خرابېدو شاهدان یو. او دا وضعیت د دوی د بشري حقونو پر ټولو اړخونو- له ورځني ژوند څخه نیولې تر ټولنیز او سیاسي وضعیت باندې سیورې غوړولی دی. د یو کال په ترڅ کې د ښځو او نجونو د آزاد او برابر ژوند کولو حق له پامه غورځېدلی او د معیشتي، روغتیا او زدکړې فرصتونو او همدارنګه د تاوتریخوالي پر وړاندې د ملاتړ فرصتونه له دوی څخه اخیستول شوي دي.

د طالبانو د نابرابرۍ تګلاره افغانستان یې له نورو هېوادونو څخه بېل کړی دی. اوس مهال، په نړۍ کې افغانستان یوازینی هېواد دی چې نجونې ښوونځیو ته له تلو منع دي. د طالبانو په کابینه کې هیڅ ښځه نشته، د ښځو چارو وزارت نشته - چې په دې توګه د ښځو د سیاسي ګډون حق عملاً له منځه تللی دی. تر ډېره، ښځې له کور بهر کار کولو څخه منع شوي. دوی، همدارنګه، اړ دي چې خپل مخونه پټ کړي او پرته له نارینه وو له سفر کولو څخه منع دي. سربېره پردې، ښځې او نجونې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي بېلابېلو ډولونو سره مخ دي.

د افغان ښځو او نجونو پر وړاندې له تبعیض ډک دغه کړنې، افغانستان غوندې هېواد لپاره یوه ګواښوونکې تګلاره ده چې اوس مهال له سترو ننګونو سره لکه د اقلیم تغیر، طبیعي پېښې، او همدارنګه د نړیوال اقتصادي درېځ چې نږدې ۲۵ میلیونه افغانان یې لوږې او فقر کې پرېښې دي، مخ دی. د ژوند له ټولو اړخونو څخه د ښځو محرومول د افغانستان د نیمايي استعداد او توان له لاسه ورکولو په مانا دی؛ د پایښت لرونکې ټولنې جوړولو لپاره د ښځو د هڅو مخه نیسي او له کړکېچ څخه د وتلو لپاره د افغانستان وړتیا کموي. د نړۍ هېوادونو د کړکېچ سره د مبارزې په برخه کې ډېر څه زده کړي دي. د عامه ژوند په ټولو برخو کې د ښځو او نجونو له بشپړې ونډې پرته، د تلپاتې سولې، ثبات او اقتصادي پرمختګ چانس کم دی.

له همدې امله موږ له طالبانو څخه غواړو چې د ټولو نجونو لپاره ښوونځي پرانیزي، د ښځو د کار او خپل هېواد په سیاست کې د هغوی ګډون پر وړاندې خنډونه لیرې کړي، او ټولې هغه پرېکړې او تګلارې چې ښځې یې له خپلو حقونو بې برخې کړې دي، لغوه کړي. موږ د ښځو او نجونو پر وړاندې د هر ډول تاوتریخوالي د پای ته رسولو غوښتنه کوو.

موږ همدارنګه له طالبانو څخه د داډ غوښتنه کوو چې ښځینه خبریالانې، د بشري حقونو مدافعین، او د مدني ټولنې فعالان د بیان له ازادۍ څخه برخمن وي، مالوماتو ته لاسرسی ولري او وکړای شي په آزاده او خپلواکه توګه پرته د غچ اخیستنې او یا برید له وېرې، خپل کار ته ادامه ورکړي.

نړیواله ټولنه د پخوا په پرتله د ښځو له حقونو څخه ملاتړ خوارا اړین ګڼي. د ښځو ونډو- لکه ښځو لپاره د خدمتونو وړاندې کول، د مخکښو ښځو او د ښځو په مشرۍ د سازمانونو- ملاتړ لپاره پانګونه وشي. د نړیوالې ټولنې ملاتړ نه یوازې د بشري مرستو پر رسولو ټینګار کوي بلکې په سیاسي کچه د بدلون د راوستلو لپاره پرله پسې او نه ستړې کېدونکې هڅې هم شاملې دي.

*UN Women is the UN organization dedicated to gender equality and the empowerment of women. A global champion for women and girls, UN Women was established to accelerate progress on meeting their needs worldwide.* *[www.unwomen.org](http://www.unwomen.org)*

ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره د دې بحران په اوږدو کې افغانستان کې پاتې شوي او هېواد کې به خپل شتون ته ادامه ورکوي. موږ د خپلو ملګرو او بسپنه ورکوونکو تر څنګ د افغان ښځو او نجونو ملاتړ لپاره ټینګ هوډ لرو. د هغو ژوند ژغورنې خدماتو کچه چې د ښځو لخوا به ښځو ته وړاندې کیږي پراخوو تر څو د دوی جدي اړتیاوو ته رسیدګي وشي. موږ په ټولو سکتورونو کې د ښځو په مشرۍ سوداګرۍ او د کاري فرصتونو رامنځ ته کولو لپاره خپل ملاتړ ته ادامه ورکوو ترڅو هیواد له بې وزلۍ څخه راووځي. موږ د ښځو په مشرۍ د مدني ټولنې پیاوړتیا لپاره هم پانګونه کوو ترڅو د ښځو په مشرۍ خوځښتونه بیا ورغیږي. نړیوالې تجربې ښیي چې د مدني ټولنو د ښځو د حقونو او د جنډر مساواتو په برخو کې د پرمختګ لپاره اساسي محرک بلل کیږي.

هره ورځ، موږ د ښځو او نجونو د بشري حقونو خوندیتوب، ساتنې او ودې لپاره هڅې کوو. همدارنګه، افغان میرمنو لپاره هغه لازم چاپېریال رامنځته کوو چې دوی خپله وتوانیږي د آزاد او برابر ژوند برابرولو لپاره هڅې وکړي.

د یو کال په تیریدو سره، د ښځو حضور له پامه غورځېدلی او حقونه یې په پراخه کچه اغیزمن شوي دي؛ اړتیاوو ته په کتو، دا اړینه ده چې مالي مرستې په ځانګړي، بنیادي او سیستماتیک توګه هغو برخو ته ځانګړې شي چې له اوسنې کړکیچ څخه د راوتلو برخه کې مرسته کوي او د افغانستان اړوند مسایلو کې د ښځو مانا لرونکې ګډون او طالبانو سره د مرکو پلاوې کې د ښځو د ګډون زمینه برابروي.

د جنسیتي برابرۍ او د ښځو د حقونو په برخه کې د لسیزو پرمختګونه یوازې په څو میاشتو کې له منځه تللي دي. موږ باید په ګډه خپل کار ته دوام ورکړو او په بېلابېلو برخو کې لکه د زدکړې حق، د کار حق، په اقتصادي او سیاسي ژوند کې د ښځو د حقونو د بشپړ درناوي په موخه د تضمین ترلاسه کولو لپاره په ګډه ټینګار وکړو. همدارنګه، مونږ باید د طالبانو پر مشرانو په ګډه غږ وکړو چې د نړیوالو تړونونو له مخې چې افغانستان یې یو اړخ دی، په بشپړه توګه پر خپلو ژمنو  ودریږي. مونږ باید د هغو افغان ښځو او نجونو غږ ملاتړ وکړو چې د یو آزاد او برابر ژوند ته د رسېدو لپاره هره ورځ مبارزې کوي. د دوی مبارزه زموږ مبارزه ده. هغه څه چې په افغانستان کې له ښځو او نجونو پر وړاندې کېږي زموږ نړیوالو مسوولیت دی.